مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رڼاګل اریوبزی

۲۰۲۳/۰۳/۲۴

# د شیخ ندامحمد ندیم دعقیدې او د تمدن تر منځ لانجې

د طالبانوپه سرپرسته کابینه کې یوځو داسي وزیران شته دي چې دنورووپرتله ډیرزردیوچا پام ځانته جلبوي. په دوی کې شیخ ندامحمد ندا، دلوړوزده کړوسرپرست وزیر ترټولوجالب اودپام وړ وزیردی. داسړی ځنې ځانګړتیاوې لري چې چې په نوروکې په نظر نه راځي. لومړی داچې، درسنیودخپرونوله مخې، دی دخپل امیرهبت اله دخورخاونداوورسره سم دهغه ډیرنږدې فکري انډیوال اوورته تربل هرچازیات وفاداردی، نوځکه دهغه دهرډول امرونوپه اجراکولوکې لوی اتل اوغټ پهلوان دی. داسې ښکارې چې له جونود پوهنتونونو«پاکول» اوپه نیمه مدرسوباندې دپوهنځیواړول دشیخ هبت اله غټ اوپخوانی ارمان واو دهغه دترسره کولوله پاره یې شیخ ندا محمد نداترټولومناسب شیخ وباله او هغه یې دلوړوزده کړوسرپرست وزیروټاکه. شیخ هبت اله په خپل اټکل کې نه و تیروتی، وزیر یې بیدرنګه دده په امراوخپل« افغاني غیرت» دخدای اودرسول امرته شا کړه او دجونوپرمخ یې د پوهنتونونو دروازې وتړلې. داخودعلم په ضد« جهاد » کې دشیخ نداعملي چټکتیااوپهلواني وه چې موولیدله. په دې برخه کې دلوړو زده کړووزیرپه توګه دهغه پوهنیزې هلې ځلې، خبرې اوویناګانې هم دهیرولو نه دي ځکه چې ورځخه دده عقیده اوپوهنیزه توښه په هغه سویه راښکاره کیږي چې دبشرپه تاریخ کې نه لیدل کیږي او نه یې ساری پیدا کیږي. دبیلګې په توګه شیخ صاحب په یوه وینا کې وایې چې:« مونږ ته تر ملي ګټو، پرمختګ او تمدن دین مهم دی.» داسې ښکارې چې دشیخ ندا محمد دعقیدې او پوهنیزې زیرمې له مخې دین هغه عقیده ده چې پکې ملي ګټې، پرمختګ او تمدون هیڅ ځای نه لري. یانې دا چې تمدن اوپرمختګ د دین په چوکاټ کې نه ځائیږي اودین بیا په خپل وارد پرمختګ او تمدن سره نه جوړیږي، نوځکه د دین لاره جداده، دپرمختګ او تمدن لاره جدا ده. دملي ګټو بحث یو څه جنجالي بحث دی، تفصیل یې په دې لیکنه کې نه ځائیږي. یوازې دومره وایوچې دملت یاد ملي دولت جوړیدل او په همدې ډول دملت کلیمه دبشري ټولنې طبعي ضرورتونه نه دی، بلکې تاریخي دي. دملت ټکي او دملت دجوړیدو تاریخي شرایط د۱۷ او ۱۸م پیړۍ په بهیر کې رامنځ ته شول. له بلې خوا دملت ګټې یا ملي ګټې ثابتې په ځای ولاړې نه دي، بلکې دحالا تو دبدلون سره تغیرکوي چې سم تشخیص یې دیوه اسلامي نظام له چاروواکودخدای ( ج ) او ملت په وړاندې صداقت اوپوره سیاسي تجروبه غواړي. داچې ننی مسلمان ملت په عین زمان کې دحضرت محمد ( ص ) امت هم دی، نو ځکه یې مشروع ګټې نه یوازې داسلام مبین دین سره تضاد نه لری، بلکې ددې دین له مخې حاکم نظام مکلف دی چې په کلکه دملت مشروعوګټوته درناوی او دهغوی ساتنه وکړي. داسلام دین اودملت مشروعې ګټې یوله بله نه سره جلا کیږي.

لکه چې وینو زمونږ شیخ صاحب، ندامحمد ندا نه یوازې دملي ګټو بلکې دتمدن او پرمختګ سره هم دپام وړعقیدوي ستونځې لري اوهڅه کوي چې خپله دیني عقیده هم دتمدن نه پاکه وساتي، نوځکه بې ځایه نه راته ښکاري چې مطلب ته درسیدو له پاره دتمدن دمنځپانګې سره یوڅه اشناشو. وایي چې تمدن په بشري ټولنه کې دژوندااقتصادي، ټولنیز،حقوقي اواخلاقي نسبي پرمختګ ته ویل کیږي چې دعلم او تخنیک دعملي کارونې په بنسټ جوړیږي او وده کوي. دتمدن متضاد اړخ وروسته پاتې کیدل دي، ظلمت، بربریت ظلم او وحشت دی. ترټولوزوړاو پخواني تمدن داوسني عراق اوسوریې په خاوره کې سرراپورته کړاو ور پسی دتارخ په اوږدوکې دنړۍ په بیلابیلو برخوکې نورتمدنونه را پیدا شول. داتمدونونه په خپلو کې ورت والی او توپیرونه هم لري دبیلا بیلوتمدونوترمنځ دورته والي لامل دهغوی پوهنیزبنسټ دی، ځکه چې انساني پوهه سیاسي اوجغرافیاوي بریدونه(سرحدونه) نه پیژني، زریا وروسته ورځخه تیریږي، دنړۍ له یوه ګوټ نه بل ګوټ ته ځان رسوي دهرتمدن بنسټ اودهغوی ترمنځ نړیوال ورته والی جوړوي، خوله بلې خواهرتمدن خپلې تاریخي، عقیدوي، سیمه ایزې، کلتوري اوداسې نورې ریښې اوځانګړتیاوې او په دې توګه له یوه بل سره توپیرونه هم لرې. داسلام پاک دین دبشریت له پاره دبربریت، ظلم ، ظلمت او وحشت



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په ضد لوړاو پرمختللی تمدن له ځان سره راوړ.دي دين دژونديوجونوپه ګورکول منع کړل، نوو پيدا شووجونو ته يي دهلکانواوښځو ته يي دسړيو په شان دژوند حق ورکړ. دغلامی نظام بنسټ يي وران کړاودرسول امت يي له بيلا بيلو لارو وهڅاوه چي خپل غلامان ازاد کړي. داسلام پيغمبرته تر ټولو نږدي کسان د دي لاري مخکښان وو. حضرت ابوبکرصديق حضرت بيلال چي غلام اويو تور پوستی و، له ابوصفيان نه په پيسوراونيواوازاد يي کړاو ورپسي دخپلي وړتيا له امله په اسلامي نظام کي په لوړومقامونو وګمارل شو. حضرت عمر ( ض ) خلکوته داسي خطاب کړی دی چي:« ای خلکوولي مو دا انسانان دځان غلامان کړي دي، حال دا چي دوی دخپلو ميندوازاد او خپلواکه زيږولي دي«.

په دي ډول داسلام پاک دين دانسانانوترمنځ ټول جنسي، نژادي او ټولنيز توپيرونه، محروميتونه او امتيازونه له منځه يوړل اوبشريت يي دجنسي، نژادي اوټولنيزو قيدونونه ازاد کړ، دانسانانو ترمنځ دوروری اوحقوقي برابری بنسټ جوړشو، دهرچا برخليک دهغه په کړو وړو (عمل ) پوري وتړل اويا خپل عمل دلاري مل شو. داسلامي تمدن يوه بله برخه په دي مبارک دين کي دعلم ارزښت دي. اسلام نه يوازي مسلمانان د پوهي زده کړي ته هڅولي دي بلکي علم يي په هرمسلمان ( نراوښځي )، د دوی په ټول عمرکي او په هرځای کي چي وي، فرض کړی دی، ياني دا چي په اسلام کي دعلم زده کړه دهر ډول جنسي، زماني اومکاني قيد اوشرط نه ازاد او مطلق ضرورت ګڼل شوی دی ځکه چي علم دنوروترڅنګ په ټولنيزژوند کي دسوکالي او پرمختګ ځراغ اوخوځوونکی ځواک دی. په دي توګه داسلام مبين دين دظلم، وحشت، ظلمت اوبربريت نه دانسانيت دازادولو له پاره نوی پرمختللی او پرمختلونکی تمدن له ځان سره راوړچي دبشريت په تاريخ کي د « اسلامي تمدن » په نامه ياديږي. داسلامي تمدن منځپانګه معرفت دی ياني د جهل نابودي ده، عدالت ياحقوقي برابري ده ياني دظلم نا بودي ده، صداقت يا د حق بيانول دي ياني زړورتياده او د ډارجرړي ايستل دي. داهرڅه د تدبير، زغم، صبراوحوصلي په بدرګه دعمل په وسيله ترلاسه کيږي. داسلام په پاک دين کي د يوازي لوی او واحد پروردګارپرستش اوبندګي فرض دی، بشريت يي دبوتانو، فرعونيانو اونورو

ډول ډول زورواکانو دفرستش او بنده ګی نه ازاد کړل، دعلم او معرفت ډيوه يي بله کړه او دهغي په نور يي دظلمت له تورو تيارونه دراوتو لارروښانه کره، ټول غيرانساني ياني، جنسي، نژادي، ميراثي، ټولنيزاوطبقاتي امتيازونه لغوشول اوپه ځای يي دانسان عمل، کړه وړه، هلي ځلي، کاراوزياردشخصيت دترلاسه کولو معيار وګرځيده اوکسبګر ته دخدای ( ج ) د دوست په سترګه وکتل شول. په اسلامي چاپيريال کي ظلم، تعصب او کينه مخ په ځوال، عدالت، مينه او محبت مخ په غوړيدوشول. په دي ډول په اسلامي ټولنه کي دانسان حق او کرامت د درناوي وړ وګرځيده، داستعداد، قابليت اومهارت ودي او پرمختګ ته زمينه برابره شوه. داسلامي ټولني په غيږ کي دعلومو، فنونواوکسبونوپه بيلابيلوڅانګوکي دنړی وتلي پوهان او کسبګران وروزل شول، لوی لوی پوهنيزاوڅيړنيز مرکزونه جوړ شول. په اسلامي سيمه کي طب، نجوم، رياضي، کيميا، فزيک، جغرافيي، فلسفي، ادبياتو او نوروعلوموبې ساري پرمختګونه وکړل. اروپايي پوهان په ګډه داحقيقت مني چي داروپا رنسانس داسلامي تمدن په علمي اوتخنيکي بنسټ بنا شو، بيله اسلامي علومواروپايي رنسانس امکان نه درلود. غربي هيوادونوداسلامي تمدن لاسته راوړني خپلي کړي، وده يي ورکړه او په نووکشفيات اواغتراعاتو يي لاس پوري کړچي په مرسته يي څه ناڅه ټوله اسلامي اوغير اسلامي نړی ترخپل نظامي، سياسي اواقتصادي ولکي لاندي راوسته. له دي سره سم په اسلامي نړی کي هغو ځواکونوزور واخيست چي داسلام پاک دين ته يي نوردپر مختللي او پرمختلونکي تمدن په سترګه نه کتل، د دين دمنځپانګي نه يي دتمدن دايستلو هلي ځلي پيل کړي، داسلام په سينه کي غوړيدلي ساينس او تخنيک ته يي شاکړه، داسلام اواسلامي امت دترقی او پرمختګ لاريي دب کړه،اسلامي جهان يي دنا پوهی، غريبی، بيوزلی او بې وسی په لور روان کړ، دنړی دپرمختګ له کاروان نه يي وروسته پاتي کړچي په پايله کي يي ډيروځوريدواولاخوريږو. له نيکه مرغه چي نن سبادديرواسلامي هيوادونو سياسي مشران اوديني عالمان په پخوانيو تيروتنو پوه شوي دي اوهڅه کوي چي له يوې خوا داسلام په پاک دين کي دعلم مقام اوداسلام په غيږ کي دروزل شوي تمدن نړيوال ارزښت وڅيړي اوښکاره کړي چي داسلام دين اوتمدن يو له بله نه سره بيليږي اودي دين ترډل هردين اويا سياسي اوفلسفي مکتب لوړانساني تمدن له ځان سره راوړی اوپاللی دی. په خواشيني بايد ووايم چي تراوسه پوري لا دلته اوهلته دندا محمد نديم په شان شيخان پيداکيږي چي په دي واقعيت باندي نه پوهيږي دتمدن سره پريکړه د دين سره پريکړه ده. او وايي چي دين تر تمدن ورته مهم دی، ياني دين مني خو دتمدن سره لانجه لري اويا په بل بيان دين مني خو احکام يي ردوي. پاس مو هڅه وکړه ترڅو ښکاره کړو چي دتمدن ضد حالت بربريت، وحشت اوظلمت دی چي داسلا مبين دين يي په ضد رانازل شوی دی او په ځای يي پرمختللی انساني اواسلامي تمدن ايجاد کړی دي. ددي تمدن په ضد جګړه کي شيخ صاحب ندا محمد تراوسه پوري يوازي په دوو برخوکي بری تر لاسه کړی دی. لومړی بری يي په پوهنتونو کي دجونو دزده کړومخنيوی دی، خو دابری يي يوموقتي بری دی چي داسلام ، ولس او دزماني دغوښتنو سره نه جوړيږي، شيخ به يا داغوښتني مني اويابه دلوی پروردګاراوافغا ولس دقهر سره مخامخ کيږي اودوهم بری يي له سره شخصي او دايمي بری دی او هغه هم دادی چي خپل سرته يي دتمدن دښنو اونښانو دورننوتو لاره داسي ډب کړي ده چي له سره ور ننوتلی نه شي، په مغز کي يي ځای نيولی نه شي. داشيخ همداسي شيخ پاتي کيږي او يو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

متمدين انسان ترې جوړيدلی نه شي. دی په خپل حال نيکمرغه اوخوشال ښکاري، خاورې دهغه ولس په سر دي چې په يو ويشتمه ميلادي پيړۍ کې يې دلوړو زده کړو وزيردتمدن له ښنواودلومړنيو زده کړونه بې برخې دی. دلوړو زده کړو وزيرلا نه ويني چې تمدن يې ټول چاپيرپال نيولی اوله بدن نه يې هم راتاو شوی دی. وزيرصاحب! دا ستا دسپرلۍ موټر، داستا دکار دفتر، سره له ټول سامان اوفرنيچر، دا ټول ديوه تمدن محصول، دهغه ښنې او برخې دي. په ايمان راته ووايه چې ايا ته ترې تيريدلی شي، دلته اوهلته په پښو اويا په اوښ تګ او راتګ کولی شې؟. دا ستا استوګنځی، دهغه ټول سامان، ديګ، کاسه اوتالی هم دتمدن محصول ، دهغه ښنې اوبرخې دي. ايا ته ترې ځان خلاصولی شې، د دکاسې اوتالي په ځای په اخورکې ډوډی خوړلی شې؟ داخو لا پريږده، داستا جامې، په سرلونګۍ په پښو څپلۍ، داستا واسکټ اوستا څادر، داکميس او دا پرتوګ هم دتمدن محصول، ښنې اوبرخې دي. که له دې نورو تيرشې، نوله کميس او پرتوګ هم تيريدلی شې اودخلکو په دې ګڼه کوڼه کې لوڅ، بې کميسه اوبې پرتوګه ګرځيدلی شې؟
شيخ صاحب! داليکنه په همدې پوښتنه بس کوم، زه درنه ځم اوتاپريږدم چې دځواب په هکله يوڅه سوچ وکړې.که روغتيا راسره ملتيا وکړه بيرته راځم. تادخبرو نورګلونه هم کرلي دي، په هر يوه، يوڅه ليکم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ